


## د مورنۍ ژبو ورځ

په ۲۱ فرورۍ په ټوله دنیا کښې د مورنۍ ژبو ورځ اونمانځلے شوه. په دې موقعه په بېلابېلو ځایونو کښې خصوصي دستورې وشوې چې د دې ورځې او د مورنۍ ژبو اهمیت څرګند کړے شي. باچاخان مرکز پېښور کښې د باچاخان ټرسټ ایجوکیشن فاونډیشن د سیورې لاندې یوه درنه دستوره اوشوه چې د عوامي نیشنل پارټۍ مشر سکتر میا افتخارحسین ور ته د مشر مېلمه په حیث خطاب اوکړو. میا صېب په دې موقعه د مورنۍ ژبو اهمیت باندې رڼا واچوله او د پښتو په شمول ټولې مورنۍ ژبې په تعلیمي نصاب کښې په شاملولو ئې زور واچولو.

د دې ورځې په مناسبت د عوامي نیشنل پارټۍ صدر اسفندیارولي خان خپل خصوصي پېغام کښې د مورنۍ ژبو په اهمیت په ګوته کړو او د حکومت پام ئې د مورنۍ ژبو ترقۍ دپاره اقداماتو ته راواړولو. دې لړ کښې نورو ګڼو تنظیمونو هم په مختلفو ځایونو کښې د دستورو او لاریونونو بندوبست کړے ؤ.

شاید چې پاکستان د دنیا یوائینے ملک دے چې حکومتي او تعلیمي ژبې ئې غیر ملکي دي. حالانکې د پاکستان خپلې ژبې په هیڅ توګه هم د نړۍ د نورو ژبو نه روستو نهٔ دي. پنجابي، پښتو، سندهي، بلوچي او په مختلفو سیمو کښې په مقامي کچ ویونکې ژبو کښې دا صلاحیت موجود دے چې د تعلیم او دفتر ژبې جوړې شي. که چرې مونږ د دنیا په مختلفو هېوادونو نظر واچوو نو مونږ ته به دا معلومه شي چې دنیا کښې هغه قومونو ترقي کړې ده د کومو قومونو ژبو چې ترقي کړې ده.

دې لړ کښې مونږ د فرانس، جرمني، اټلي، یونان، چین، ناروے، روس، امریکې او برطانیې مثالونه په اسانه ورکولے شو. د هندوستان هم دغه حال دے. هندوستان کښې په جنوبي صوبو کښې په خصوصي توګه خپلې خپلې ژبې د تعلیم او دفتر ژبې ګرځولے شوي دي. د جاپان خلقو خپله ژبه خپلو سینو سره داسې کلکه نیولې ده چې اخوا کول ور ته خپل ملي مرګ ښکاري.

د فخرِافغان باچاخان دا خبره د کاڼي کرښه ده چې د کوم قام نه خپله ژبه ورکه شي نو هغه قام

ورک شي.

د پاکستان آئین هرې صوبې ته دا اجازت ورکړے دے چې خپله خپله ژبه دفتري او تعلیمي ژبه جوړه کړي ولې د سندهـ نه علاوه یوې صوبې هم دغه آئیني تقاضا تراوسه نۀ ده پوره کړې. باید چې دې لړ کښې عملي ګامونه واخستے شي. خو د بده مرغه چې په پښتونخوا کښې تعلیمي ادارو کښې د مودو راهسې د پښتو د لیک لوست کومه سلسله روانه وه موجوده حکومت هغه سلسله هم اوشلوله. دا عمل د سازش نه بغیر بل څۀ نۀ ښکاري. ځکه چې دا سازش د مودو راهسې راروان دے چې د پښتنو نه خپله ژبه هېره کړي چې دغسې د دوي ملي هستي ختمه شي.

داسې بریښي چې پښتونخوا کښې د تحریک انصاف او جماعت اسلامي حکومت هم د دې غرض دپاره جوړ کړے شوے دے. د دې غټ ثبوت دا دے چې د پښتونخوا وزیراعلی محترم پرویز خټک دوه کاله مخکښې اکوړه خټک کښې د خوشحال خان خټک په یاد کښې یوې دستوره کښې د ګډون نه پس په واضحه ټکو کښې د دې خیال څرګندونه کړې وه چې څوک د پښتو نوم اخلي نو دا داسې ده لکه چې د دۀ په سر کښې ډز اوشي. دغه خیال د جماعت اسلامي امیر سراج الحق هم څو څو ځله څرګند کړے دے. په داسې حال کښې په پښتنو دا لازمه ده چې د پښتو ژبې د تحفظ دپاره سیاسي مبارزه شروع کړي ګني د پښتنو ملي هستي به د مېنځه لاړه شي.

## ګوجرانواله کښې ایف. آئي. آر

د هندوستان یو ښار پټهانکوټ کښې چې په یو فوځي هوائي ډګر کومه حمله شوې ده د هغې ابتدائي رپورټ د پاکستان داخله وزارت په ګوجرانواله کښې درج کړو. دا یوه اهمه تاریخي واقعه په دې اساس ده چې باران په تلاش اوشو او خرۀ ئې د راموړې یوړل. دا یوه قانوني تقاضا ده چې جرم د کومې تانې په حدودو کښې اوشي د هغې مقدمه هم په هغه تانه کښې کښې درج کېږي. خو دلته خبره د تانې، تحصیل،ضلعې او صوبې نۀ ده بلکې د دوه ملکونو ده. نو ځکه دا یوه تاریخي واقعه او تاریخي ایف. آئي. آر (ابتدائي رپورټ) دے.

دې ایف. آئي. آر ته د ټولو نه زیات اهمیت په دې اساس هم حاصل دے چې د پاکستان حکومت د هند دغه الزام په سر سترګو اومنلو چې د پټهانکوټ پېښه کښې د پاکستان خاوره ککړه ده. د پاکستان حکومت وائي چې دا رپورټ د هغه معلوماتو په اساس درج کړے شوے دے کوم معلومات چې د هند حکومت دپاکستان حکومت ته ورکړي وو. ځینې ناظران دا خیال څرګندوي چې دا رپورټ د بین المللي فشار لاندې درج کړے شوے دے. هر څۀ چې دي خو د پاکستان حکومت د هند الزام منلے دے او اوس که تفتیش هر څنګه وي هند په دې کښې ځان بریالے کړو چې خپله کمزوري په پاکستان ور اوتپي. د هند الزام او د پاکستان اعتراف تر څۀ حده په حقیقت بنیاد لري دا به وخت ثابتوي خو دا حقیقت په خپل ځائې دے چې ځینې غیر ریاستي عسکري قوتونه پاکستان کښې په عملیاتو کښې مصروف دي. دا عسکري قوتونه په یوه یا بله نامه پاکستان،افغانستان او هندوستان کښې په منظمه طریقه عملیات کوي. د ټولو نه زیات نقصان دې لړ کښې پاکستان ته رسېدلے دے او لګیا دے رسېږي. دې حالاتو د پاکستان په خارجه تګلاره

هم منفي اثرات غورځولي دي. په بين الاقوامي کچ د پاکستان شهرت تر افسوس ناک حده زيان شوے دے. په داسې حال کښې که پاکستان باندې خارجه فشار پريوځي نو دا څۀ ناشوني خبره نۀ ده. البته د پاکستان په واکمنو دا ذمه واري پريوځي چې د ملک دننه په هر قسمه عسکري تنظيمونو ژور نظر اوساتي او چا ته هم دا اجازت ور نۀ کړي چې د نورو هېوادونو په کورنيو چارو کښې لاسوهنه اوکړي. پاکستان کښې يو جمهوري او نمائنده حکومت موجود دے. خارجه او بين الاقوامي تعلقات د حکومت په اختيار کښې دي غير رياستي او غير حکومتي تنظيمونه دا حق نۀ لري چې په خپل کچ دې لړ کښې څۀ قدم پورته کړي. پاکستان کښې يو تربيت يافته ملي فوځ هم موجود دے چې د ضرورت په وخت د ملک د جغرافيائي سرحدونو د حفاظت توان لري او که حکومت اوغواړي چې د بل ملک سره د څۀ تنازعي حل دپاره دې فوځي طاقت استعمال کړي نو دغه فوځ کاروائي کولے شي. د پرائيويټ عسکري تنظيمونو وجود د دنيا يو ملک کښې هم نشته. دا قسمه بې مهاره تنظيمونه ملکونو ته نقصان رسولے شي او د دنيا امن تالا ترغه کولے شي.

## د پرويز مشرف په اے اين پي الزام

د پاکستان يو مخکښني فوځي آمر جنرل پرويز مشرف يو ملاقات کښې د خپل حکومت دوران کښې د خپلې کارکردګۍ تعريفونه اوکړل. دۀ دې لړ کښې د ترهګرۍ او عسکريت خوښۍ خلاف د خپل کردار د ډول غړولو په وخت د عوامي نيشنل پارټۍ په تېر حکومت دا تور پورې کړو چې دۀ چې د ترهګرۍ خلاف کوم عمليات شروع کړي وو د عوامي نيشنل پارټۍ صوبائي حکومت پښتونخوا کښې دغه عمليات شاته کړل او ځينې مذهبي مشران ئې د بند نه خوشې کړل. دۀ په مولانا فضل الرحمان هم دا تور اولګولو چې د متحده مجلس عمل د حکومت په ورځو کښې مولانا صېب د ترهګرۍ خلاف د فوځي اقداماتو مخالفت کولو ولې دۀ د دې مخالفت د پرواه کولو بغېر د پښتونخوا جنوبي ضلعو کښې فوځي کاروائي اوکړه.

که د جنرل پرويز مشرف د حکومت ورځې شپې رايادې کړے شي نو دا حقيقت به پټ پاتې نۀ شي چې پرويز مشرف تل په بوځو کښې اوبۀ بوتلې دي. د دۀ تګلاره په يوه موقعه هم واضحه نۀ ده پاتې شوې. تل ئې د **Good** او **Bad** په بنياد عسکريت کښې فرق کړے دے. د چا خلاف ئې جزوي جنګ کړے دے او څوک ئې ترخ کښې ساتلې دي. که چرې د پرويز مشرف پاليسي اوڅېړلے شي نو دا حقيقت به رابرڅېره شي چې نن چې پاکستان په کومو مشکلاتو کښې ګېر دے د دې بنيادي وجه د جنرل ريټائرډ پرويز مشرف د غير رياستي عسکري قوتونو په اړه تګلاره وه.

تر څو چې د عوامي نيشنل پارټۍ د صوبائي حکومت تعلق ؤ. نو دا حکومت د يو سياسي ګوند منتخب حکومت ؤ. عوامي نيشنل پارټي يو جمهوري ګوند دے. او تل ئې د امن او صلح سياست کړے دے. که چرې صوبائي حکومت ځينې مذهبي مشران د جيلونو نه ازاد کړي دي نو دا څۀ بده خبره څکه نۀ ده چې دا خلق نېغ په نېغه په عسکري عملياتو کښې نۀ وو ککړ صرف د انتها پسندو نظرياتو په اساس تېرو حکومتونو جېلونو کښې اچولي وو. دوي سره خبرې اترې د يو جمهوري

حکومت د جمهوري پالیسو تقاضه وه. موجوده حکومت هم په شروع کښې هم دغه لاره خپله کړې وه. هر حکومت دا کوشش کوي چې وطن ته پېښې کړمې او مسئلې د خبرو اترو د لارې هوارې کړي.

د دې نه پس ټولې دنیا ته دا معلومه ده چې عوامي نیشنل پارټۍ دې لړ کښې څومره د سر و مال قربانۍ ورکړې. اوس هم عوامي نیشنل پارټي د یو سیاسي او ملي ګوند په حیث د امن او صلح دپاره هر چا سره خبرو اترو کولو نه ډډه نۀ کوي. ځکه چې عوامي نیشنل پارټي د عدم تشدد په لاره روانه ده او د هر قسمه جنګ نه ډډه کول د خپل سیاست اساس ګڼي. عوامي نیشنل پارټي په مقامي،علاقائي او عالمي کچ تل د امن او صلح دپاره مبارزه کړې ده او دغه مبارزه ئې لا روانه ده.

# د بدعنوانیو د مخنیوي اداري او حکومت

پاکستان کښې په وفاقي کچ د بدعنوانیو د مخنیوي دپاره یوه اداره د نیشنل اکاونټیبلټي بیورو (NAB) په نوم کار کښې اخته ده. دا په وفاقي او صوبائي کچونو د بدعنوانیو د مخنیوي نه علاوه په اولسي کچ د غلا غلتۍ د مخنیوي ذمه واري هم پوره کوي ولې د دې سره سره د پښتونخوا حکومت هم د احتساب کمشن په نامه یوه اداره جوړه کړه. صوبائي حکومت د دې ادارې اختیارات د انصاف د تقاضو خلاف اوګڼل او دې کښې ئې بدلون اوکړو. د دې ډائریکټر جنرل د دې بدلون خلاف استعفٰی ورکړه. بل طرف ته وزیراعظم نوازشریف د NAB په کردار هم ټکونه اوکړل او دا ئې د ترقۍ په لار کښې خنډ اوګڼلو. دا ځکه چې نېب ځینې لویو صنعت کارو ته لاس اچولے دے.

دې کښې هیڅ شک نشته چې ملک کښې په هره سطح بدعنوانۍ د یو رواج شکل اختیار کړے دے. که چرې د دې مخنیوے اونۀ شي نو د ملک اقتصاد،سیاست او معاشرت ته به دومره زیان اورسي چې ریاستي وجود به تر داسې بد متاثر شي چې ځائې ته راتلل به ئې ګران شي. که چرې حکومت د خپلو نورو ادارو په ذریعه د دې مخنیوے کولے نو د خصوصي ادارو ضرورت به نۀ ؤ. د بدعنوانۍ مخنیوے د هر حکومت بنیادي ذمه واري ده. باید چې دې لړ کښې حکومت د قومي ادارو سره پوره پوره ملګرتیا اوکړي. د دې ادارو دپاره قوانین په داسې رنګ کښې پکار دي چې دغه ادارې د خپلو اختیاراتو نه تجاوز اونۀ کړي او نۀ د دې نه ناجائزه فائده واخلي.

که چرې دا ادارې د سیاسي مخالفینو خلاف استعمال شوې نو دا سلسله به بیا اونۀ درېږي. د خلقو باور به د دې ادارو نه پاسي. د وفاقي او صوبائي واکمنو لخوا په دې ادارو ټکونو سره په خلقو کښې دا ادارې خپل باور بائیللے شي.

# نوې سر شمېرنه (مردم شماري)

پاکستان کښې یو ځل بیا د سر شمېرنې کولو اوازې دي ولې ورسره ورسره د دې د نۀ کولو خبرونه هم پرله پسې را روان دي. وئیلے کېږي چې دوه صوبې یعنې سندھ او بلوچستان سر شمېرنه (مردم شماري) کولو کښې د خنډان اچولو کوشش کوي. سندھ کښې پیپلز پارټي د واکمنۍ په ایوانونو کښې ناسته ده او دې ګوند کله هم د خپل اقتدار دوران کښې سرشمېرنه نۀ ده کړې.

سـرشمېرنه يوه آئيني تقاضه ده چې هر لس کـالـه پـس ئې کـول ضروري دي. د دنيا ټولو ملکونو کښې سـرشـمېرنې ته بنيادي اهميت حاصل دے او دا ځـکـه چې د مـلـک د نـظـام چلولو او اقتصادي ترقۍ دپـاره د مـنـصـوبه سازۍ بنياد خلق او د هغوي تعداد دے. د سرشـمـېـرنې نـه دا مـعـلومېږي چې د ملک مـجـمـوعـي آبــادي څـومـره ده. د مـختلفو صوبو، ضـلـعـو،ډويـژنـونـو،تحصيلونو،کلو،بانډو او ښارونو آبـادي څومره ده. د دې د خلقو مذهبونه څه دي. کومې کومې ژبې وئيلے کېږي. د روزګار ذريعې ئې څۀ دي. او دودونه دستورونه ئې په کوم ډول دي.

که چرې منصوبه سازو ادارو سره دا معلومات نۀ وي نـو هـغوي په يو مد کښې هم منصوبه سازي نۀ شـي کـولے. حتی چې قانون سازي او انتظام والنصرام هـم پـه صـحـيـح تـوګه نۀ شي کېدے. خو د بده مرغه پـاکسـتـان کښې هـمېشـه د سـرشـمېرنې کولو نه ډډه شوې ده. آخري سرشمېرنه په کال ۱۹۹۸ کښې شوې وه بايد چې ۲۰۰۸ کښې سـرشـمېرنه شوے وے ولې تـراوسه لا دا شک دے چې اوس به هم اوشي او که نه. مـونږ دې کـرښـو کښې مـخـکښې هـم څو څو ځـلـه د سـرشـمېرنې په اهميت رڼا اچولې ده او د دې په زر تر زره کولو مو زور راوړے ؤ.

څـو ورځې مخکښې د عوامي نيشنل پارټۍ مشـر سـکـتـر ميا افتخارحسين په يو خصوصي بيان کښې د حـکـومـت نه په کلکه دا غوښتنه کړې ده چې زر تر زره دې سرشمېرنه باندې لاس پورې کړے شي. د ميا صيب دا مطالبه په دې اساس د ستاينې وړ ده چې سرشمېرنه يو طرف ته آئيني تقاضه ده او بل طرف ته د دې د نۀ کولو سره ډېرې مسئلې را ولاړې شوې دي.

د کلو نه ښاريو ته په تيزۍ سره د خلقو کډې رواني دي. د کـلـو آبادي کمېږي او د ښارونو زياتېږي. د ښـارونـو مسـئـلـې ورسـره هـم زياتېږي. د قومي او صـوبـائـي اسمبلو د حلقو سردوباره حد بندي ضروري ده. د ښاريو نمائندګي په جمهوري ادارو کښې د دوي د آبـادۍ په تناسب کمه ده. دغه وجه ده چې د ۲۰۰۸ نه پـس شوي عام انتخاباتو باندې هم د غير آئيني کېدلو شک کېدے شي.

سـنـدهـــ او بـلـوچستان چې پـه کوم بنياد د سـرشـمـېـرنې لاره کښې خنډان اچوي دا د حقيقت نه سـتـرګې پټول دي. د سندهـ حکومت سره دا شک دے چې کـراچۍ تـه پـه تيـزۍ سره د پاکستان د مختلفو سيـمو نه د خلقو د نقل مکانۍ په نتيجه کښې سندهـ کښې د زړو سـنـدهيـانو آبادي په کمېدو ده. که چرې داسې وي نـو سـرشـمـېـرنې نۀ کـولو سره د سندهيانو آبادي نشي زياتېدے. البته د سندهـ حکومت ته به په مـنـصـوبه سازۍ کښې مشکلات ضرور زياتېږي او ټـوله منصوبه سازي به غلطه او فرضي وي. د کراچۍ او حيـدر آبـاد ښـــارونـو مسـائل بـه نور زيـاتېږي او ګړکېچن حالات به پېدا کېږي.

بـلوچو ته دا شک دے چې د نوې سرشمېرنې سـره بـه بـلـوچسـتـــان کښې د افغـان مهـاجـرينو د مـوجـودګۍ په نتيجه کښې د بلوچو آبادي کمه شي.

حالانکې دا شک صرف يو شک دے. بلوچ چې څومره دي هم هغه هومره به وي او د پښتنو د آبادۍ تناسب به هم په خپل ځائې وي.

تر څو چې د افغان مهاجرو مسئله ده نو دا مسئله خو په خيبرپښتونخوا کښې د ټولو صوبو په نسبت زياته ده ولې د پښتونخوا خلقو کله هم دا مسئله د سرشمېرنې سره نۀ ده تړلې. د افغان مهاجرينو شمېره هم ضروري ده ځکه چې دوي د پاکستان وسائيل په استعمال کښې راولي. که چرې دوي د سرشمېرنې نه بهر اوساتلے شي نو دې سره به هم د سرشمېرنې بنيادي مقاصد پوره نۀ شي. البته د دوي شمېره د پاکستان د خپلو استوګنو نه جدا پکار ده. او دوي هم د مهاجر په حيث ساتل پکار دي. دغسې به د بلوچو او سندهيانو تحفظات ختم شي. قومي او صوبائي اسمبلو کښې نمائندګۍ او ورسره بلدياتي ادارو او حکومتي ملازمتونو کښې به د دوي برخه نۀ وي او نۀ به د انتخابي حلقو د حد بندۍ دپاره د دوي شمېره او تعداد په نظر کښې ساتلے شي ولې د نورو وسائيلو استعمالولو دپاره د منصوبه سازۍ په وخت د دوي تعداد او شمېره ضرور نظر کښې ساتل پکار دي. ځکه چې دوي د پاکستان تعليمي ادارې،هسپتالونه،سړکونه،لارې کوڅې، خوراکي څيزونه په استعمال کښې راولي. دغسې د امن و امان په لړ کښې د منصوبه سازۍ او انتظامي چارو په لړ کښې هم افغان مهاجرين نۀ شي نظر انداز کېدے.

د کراچۍ غونډې لوئې ښار کښې نور هم خارجي خلق اوسېږي. دوي هم په شمېر کښې راوستل پکار دي. لنډه دا چې نوې سرشمېرنه د ملک يو بنيادي ضرورت دے. دا د وفاقي حکومت ذمه واري ده او صوبائي حکومتونه پابند دي چې د وفاق سره دې لړ کښې پوره پوره مرسته ملګرتيا اوکړي. ځينې خلق د ملک دننه د قبائيلي سيمو د کډوالو بې کوري او قبائيلي سيمو کښې د امن و امان حالات هم د سرشمېرنې د نۀ کولو دپاره بهانه جوړول غواړي. خو دا هم څۀ منطق ځکه نۀ لري چې قبائيلي کډوال چې هر چرته دي د دوي شمېره کولو کښې څۀ مشکل نشته. دوي ته به لکه د نورو خلقو يو فارم ورکولے شي او هغه به دوي ډکوي. دوي به دې فارم کښې خپله مستقله استوګنه ښائي. که چرې حکومت سرشمېرنه په يوه ورځ يا ټول ملک کښې په يو ځائې نۀ شي کولے نو په څو مرحلو کښې کولے شي. دلته دا خبره کول هم بې ځايه نۀ ده چې که د عامو انتخاباتو غونډې ګران کار خو په يو ورځ کېدے شي که بلدياتي انتخابات کېدے شي نو سرشمېرنه ولې نۀ شي کېدے. بايد چې د بهانو جوړولو نه نوره ډډه اوشي.

☆☆☆